
استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

روانشاد پوهاند عبدالحی حبیبی
سه شنبه۱٦ جنوری ۲۰۲٤

# د احمد شاه بابا دیوان




**پنځه لسمه برخه**

**بدیعی صنایع**

د احمد شاه بابا په کلام کي شعری صنایع او بدیعی مزایا هم سته، چه د ده پر ادبی مهارت باندي دلالت کوي، پخپله به محترم لوستونکی دغه بدیعي صنایع د ده په کلام کي ومومی دلته موږ فقط یو اشاره ورته کوو:

د طباق په صنعت کي وایی:

زړه مي تورو زلفو بند کړ
زه بیده وم خبر نه وم
اوس ارمان د سپین رخسار کړم
د بلبل نارو بیدار کړم

salamwatanam@gmail.com

تجنیس تام په دې بیت کې دی:

ستا پر مخ ګوره اور بل دي          ځکه اوربل په کوګل دي

(و قس علی هذا)

**د عشق او میني دنیا**

د مشرق په شاعری کي د عشق مضامین او واردات اکثریت لري، تقریباً شعر د عشق دپاره مخصوص شوي دي، خاص بیا په پارسی شعر کي عاشقانه مضامین دومره ډیر دي، چه پای نه لري!

احمد شاه بابا چه هم د عشق او د میني په دنیا کي پل کښیږدي، نو پاخه ویل لری، او هر قدم ئې استادانه دي!

احمد شاه بابا د عشق په دنیا کي تر خپل ټوله شاهانه سطوت او جلال تیریږي، او لکه حضرت جامی چه وایي:

بندۀ عشق شدی ترک نسب کن جامی

کاندرین راه فلان ابن فلان چیزی نیست

دئ هم د عشق دنیا د سر د بایللو ځای بولي، چه ګټنه ئې په سربازی اړه لري، نه په شاهی او نسب:

دا د عشق بازار د سر دي ځما جانه

ګوره ندی دا بازار بیا په نسب

یا دا:

که بادشاه د درست جهان یم

غلام ستا ماه تابان یم

یا دا:

چه د میني شاهی مومم، بادشاهی به څه کومه؟

د عشق په دنیا کي مین هر څه د محبوب په قدمو کي خونی کوي، او تر هر څه تیریږي، حافظ پخپل تش تخیل، سمرقند او بخارا ور بخښی، حال دا چه دئ د شیراز یو خوار سړی وو:

به خال هندویش بخشم سمرقند و بخارا را

د احمد شاه بابا چه عاشقانه جذبات پر غورځنګ راسي، هم تر خپل سر او شاهی تیر دي، ځکه چه دئ حقیقتاً هم دغه اقتدار لری نو د ده دغه ایثار محض شاعرانه تخیل نه، بلکه و حقیقت ته نژدې دي:

دواړه جار شه تر دلبر

که د یار په عشق سر کښیږدي

هم مي سر هم مي کشور

"احمد" هاله کا اختر

بل ځای وایی:

که شاهی ده که مي سر

توري خاوری ستا دور

ټول به جار کړم تر دلبر

دي توتیا ځما د بصر

د مین ځان د جانان دپاره خوښ وي، او دنیا ته د میني په سترګه ګوري، سعدی وايي:

عاشقم بر همه عالم که همه عالم ازوست

عبدالقادر خان خټک دغه مضمون داسي ادا کړي دي:

زه چه هسي پخپل ځان باندي مین یم

د جانان دی په جانان باندي مین یم

احمد شاه بابا د عشق پر دغه مهم مقام داسي راځي:

**نوربیا**